د آبادۍ اوونیزه
هفته نامه آبادی
ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۹ | مسلسل نمبر: ۵۲

شنبه، د ذوالحجې لومړۍ، ۱۴۴۵ هـ. ق کال



## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۴ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۴ پروژې منظورې کړې



۱ صفحه

## له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق پرانیستل شو



۲ مه صفحه

## د سن پیترزبورګ اقتصادي غونډه او پر افغانستان یې اغېز



۴ مه صفحه



# سرلیکنه

د سن پیترزبورګ په اوه ویشتمه اقتصادي غونډه چې د روان لمریز کال د غبرګولي له ۱۶مې بیا د همدې میاشتې تر ۱۹مې نیټې یې دوام درلود، د افغانستان اسلامي امارت د کار او ټولنیزو چارو وزیر په مشرۍ لوړ پوړی امارتي پلاوي ګډون کړی و. دغه اقتصادي غونډې ته له څلوېښتو د ډېرو هېوادونو لوړ پوړي پلاوي او د څه باندې ۱۲ سوه روسي او د شاوخوا ۲۶۰ بهرنیو شرکتونو استازي وربلل شوي وو. د سن پیترزبورګ اقتصادي غونډې بحثونه تر ډېره بریده پر اقتصادي موضوعاتو راڅرخېدل.

کله، چې اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو د سیمې او نړۍ له زیاترو هېوادونو سره دا اندېښنه موجوده وه، چې اسلامي امارت به څه ډول بهرنی سیاست غوره کړي او څنګه به وکولای شي چې له نورو هېوادونو سره خپلې سیاسي او اقتصادي اړیکې ټینګې کړي. خو اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرنی سیاست په غوره کولو سره دا ټولې اندېښنې له منځه یوړې. له دې وروسته د سیمې په ګډون د نړۍ یو شمېر هېوادونو له افغانستان سره سیاسي او اقتصادي تعامل ته لاس را اوږد کړ. په افغانستان کې یې خپلې سیاسي نمایندګۍ پرانېستل او هم یې په خپلو هېوادونو کې سیاسي استازولۍ اسلامي امارت ته وسپارلې. د نړۍ په دې کړکېچن حالت کې د داسې یوه سیاست غوره کول، د سیاسي پختګۍ ښکارندويي کوي. د همدې ډول سیاست برکت و، چې نړۍ او په ځانګړي ډول د سیمې هېوادونه اوس دې نتیجې ته رسېدلي، چې له افغانستان سره اړیکو ته د خپلو ګټو له زاویې وګوري. ددې هېوادونو له ډلې څخه یوه هم روسیه ده. دا څه موده مخکې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر وویل چې د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان کې ربښتینی ځواک دی او روسیې پرېکړه کړې، ترڅو اسلامي امارت د ممنوعه سازمانونو له نوملړ څخه وباسي. دا په دې مانا ده چې روسیه غواړي له افغانستان سره خپل اړیکې پراخ کړي. بله دا چې د اوکراین جګړه روانه ده، روسیه غواړي د اروپا د بازارونو پر ځای مرکزي اسیا، سویلي اسیا، افریقا او نورو سیمو ته مخه کړي او د افغانستان موقعیت په دې برخه کې ځانګړی اهمیت لري.

په هر صورت اسلامي امارت چې د سن پیترزبورګ په څېر غونډو کې ګډون وکړي، نو دا کولای شي چې د سیاسي او اقتصادي تعاملاتو له پاره لار پرانیزي. همدا اوس د سن پیترزبورګ په اقتصادي غونډه کې ددې چانس شته چې موږ وکولای شو د سیاسي پرمختګ په څنګ کې خپل اقتصادي فعالیتونه ګړندي، سوداګري پراخه، بهرنۍ پانګوال په افغانستان کې پانګونې ته وهڅوو او د افغانستان د سیمه‌ییز اتصال له پاره همکاري راجلب کړو.

له دې سره به له یوې خوا اقتصادي اړیکې ټینګې شي اوله بل لوري به د هېواد سوداګري پراختیا ومومي او هېواد به په اقتصادي ډګر کې لا زیاتي لاسته راوړنې ولري.

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY
هفته نامه آبادی
د آبادۍ اوونیزه

# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۴ میلیارده افغانیو په ارزښت ۱۴ پروژې منظورې کړې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۱٦مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم ۲۴ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې، چې له جملې یې د ۱۴ پروژو قراردادونه منظور، د شپږو تعدیل او د یوې پروژې قرارداد لغوه شو. همدا راز ملي تدارکاتو ریاست ته دنده وسپارل شوه، څو د یوې پروژې قرارداد بیاځلي ازادې داوطلبۍ ته وړاندې کړي او د دوو پروژو قراردادونه بیا په هراړخیز ډول و ارزوي او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د کابل – کندهار لویې لارې د اساسي بیارغونې د پاتې چارو بشپړول، په مختلفو ولایتونو کې د افغانستان برېښنا شرکت اړوند د برېښنایي وسایلو چمتو کول، د کابل ښار ځینو مهمو سړکونو اساسي جوړول او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

# لــه خصــوصي سکتــور څخــه د ملاتړ صندوق پرانیستل شو




د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۱۷مه نېټه له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ په موخه جوړ شوی صندوق پرانیستل شو. په همدې موخه په جوړو شویو مراسمو کې د صنعت او سوداګرۍ وزیر محترم نورالدین عزیزي، صنعتکارانو، سوداګرو او یوشمېر امارتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ او هغو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په برخه کې د دغه صندوق رامنځته کول مهم وبلل او ویې ویل، چې په دې سره به د خصوصي سکتور د ملاتړ ترڅنګ د سوداګرۍ، ترانزیټ، صنعت او کورنیو تولیداتو د ودې او پرمختګ بهیر ګړندی او دغه راز به هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت ته له خصوصي سکتور څخه ملاتړ، کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینې برابرول او د کورني صنعت پرمختګ لومړیتوب لري او په همدې موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له لوري مالیاتي جریمې او پر اصنافو او کسبګرو باندې ثابتې مالیې معاف او تخفیف ورکړل شوی. همدا راز د شرکتونو د تضميناتو، تامیناتو او طلباتو ورکړه هم پیل شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق د پرانیستې مراسمو ته وویل، اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو ګمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د خلکو اړتیاوې پوره کولی شي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د خصوصي سکتور له استازو وغوښتل چې خپل فعالیتونه د منل شوو معیارونو په نظر کې نیولو سره لا ګړندي او په ښه کیفیت ترسره کړي.

د خصوصي سکتور څخه د ملاتړ صندوق د پروژو د پلي کېدو لپاره د دایمي مالي سرچینې پیدا کولو، د کورنیو تولیداتو معیاري کولو اړوند پروګرامونو د مالي ملاتړ، د ملي او نړیوالو نندراتونونو په جوړولو کې د همکارۍ، د صادراتو لپاره د ځانګړو مرکزونو جوړولو، د خصوصي سکتور د ملي او مؤثرو پروګرامونو او د خصوصي سکتور د نورو برخو د مالي ملاتړ په موخه جوړ شوی، چې د خصوصي سکتور له لوري یې تود هرکلی وشو.

# اسلامي امارت د کرنې سکتور میکانیزه کولو لپاره هڅې پیل کړې دي

زراعت د هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول لري او د اقتصادي ودې یو له مهمو فکتورونو څخه ګڼل کیږي. همدا لامل دی چې کرنه د هېواد د کورنیو تولیداتو د ټولیز ارزښت درېیمه برخه جوړوي.

د هېواد ډېری برخه کاري ځواک په کرنه بوخت او خپل عاید له دې سکتور څخه ترلاسه کوي.

د هېواد زیاتره صادراتي اقلام کرنیز محصولات جوړوي، چې د ۱۴۰۲ لمریز کال پرمهال د شاوخوا دوه میلیارد ډالرو په ارزښت د ترسره شویو صادراتو زیاته برخه یې کرنیزو توکو جوړوله.

اسلامي امارت هڅه کوي چې د مؤثرو او د وخت ضرورت پر اساس جوړ شویو پلانونو په پلي کېدو سره د کرنې سکتور میکانیزه کړي، چې په پایله کې به یې په ښه کیفیت او ډېر کمیت سره کرنیز توکي تولید، هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره، کورنۍ اړتیا به پوره او د صادراتو کچه به ورسره لوړه شي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کرنیزو محصولاتو په دېرشم پسرلني نندارتون کې په دې اړه وویل، د کرنې په سکتور کې شته نیمګړتیاوو ته د رسېدو په پار د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د کرنې له وزارت سره مسلسل او نږدې کار کوي، او دوی یې هڅولي چې د زراعت د مېکانیزه

هفته نامه آبادی
آبادي اوونیزه

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ABAADI ONLINE WEEKLY




کولو او د زراعتي ټیکنالوژۍ کارونې ته مخه کړي.

همدارازاقتصادي معاونیت د افغان متخصصینو په مرسته عملاً د هیواد د ملي پراختیا پر ستراتیژۍ کار روان کړی، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له منظورۍ وروسته به عملي او په وسیله به یې وتوانېږو د افغانستان زراعت میکانیزه او هیواد به د صنعتي کېدو په لور سوق کړي.

همدارنګه په هیواد کې د کرنې په سکټور کې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې له پاره خوندي چاپېریال برابر شوی او په دې برخه کې لا هم هڅې رواني دي، د اوبو مدیریت لپاره عملاً کار پیل شوی، چې ښه مثال یې په دې وروستیو کې په هرات کې د پاشدان بند د نیمګړو کارونو پیل دی.



# امارت اسلامی به سرمایه گذاران داخلی و خارجی تسهیلات زیادی در زمینه سرمایه گذاری ایجاد کرده است



به منظور تسهیلات به سرمایه گذاران خارجی، مرکز واحد تمامی ادارات مربوطه در میدان هوایی کابل ایجاد شده است. این مرکز برای آنعده از سرمایه گذاران و تجاران خارجی که می خواهند در افغانستان سرمایه گذاری کنند و همچنان برای ارائه خدمات به متخصصینی که با سکتور خصوصی کشور همکاری می کنند، ایجاد گردیده است. وظیفه اصلی این مرکز تسهیلات برای سرمایه گذاران و تجاران خارجی در زمینه خدمات تخنیکی و تهیه ویزه می باشد. با افتتاح این مرکز صدها سرمایه گذاران و تجاران خارجی در مورد فرصت های سرمایه گذاری در افغانستان معلومات دریافت کرده اند. پس از آغاز فعالیت این مرکز، سرمایه گذار و تاجر خارجی توانسته اند به زود ترین فرصت از طریق این مرکز با همکاری ادارات مربوطه ویزه خود را اخذ و فعالیت های مرتبط با سرمایه گذاری را انجام دهند.

سرمایه گذاران و تجاران خارجی پس از طی مراحل مقدماتی در این مرکز، طرح های سرمایه گذاری خود را به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی زیر چتر معاونت اقتصادی ریاست الوزراء ارائه می کنند.

این طرح ها پس از ارزیابی تخنیکی، مالی، حقوقی و اقتصادی توسط کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی جهت منظوری به کمیسیون اقتصادی ارسال می شود. این کمیته تا اکنون به ارزش میلیاردها افغانی ده ها طرح سرمایه گذاری در بخش زیربنا، انرژی، ترانسپورت، صنعت، زراعت و سکتور های مختلف دیگر را ارزیابی کرده و کار عملی بعضی از این طرحها اغاز گردیده است.

وظیفه کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی طی مراحل طرح های سرمایه گذاری داخلی و خارجی، سرعت و شفافیت در پروسه های سرمایه گذاری و ایجاد هماهنگی مؤثر بین سرمایه گذاران و ادارات ذیربط است.

قابل یاد آوری است که تا اکنون ده ها شرکت خارجی به دلیل به میان آمدن تسهیلات در بخش سرمایه گذاری در زیربنا، انرژی، ترانسپورت، صنعت، زراعت و در سکتور های مختلف دیگر سرمایه گذاری کرده اند.

# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با رئیس هلال احمر و شورای مساجد و معاون پیشین رئیس جمهور اندونیزیا و هیأت همراهش دیدار نمود

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به تاریخ ۱۶ام جوزا سال روان خورشیدی در دفتر کارش با محترم محمد یوسف کالا رئیس هلال احمر و شورای مساجد و معاون پیشین رئیس جمهور اندونیزیا و هیأت همراهش دیدار نمود

در این دیدار هر دو طرف در مورد روابط سیاسی، اقتصادی، تجارتی و توسعه روابط دو جانبه میان ملت های دو کشور بحث و تبادل نظر کردند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت که افغانستان و اندونیزیا در طول تاریخ روابط خوبی داشته اند و اکنون زمینه بهتری برای توسعه این روابط مهیا گردیده و هر دو کشور باید برای تقویت روابط



خویش با یکدیگر همکاری مشترک نمایند.

محترم ملا صاحب افزود که با تامین امنیت سرتاسری در افغانستان، فرصت های سرمایه گذاری خوبی در بخش انرژی، معادن، بندهای آبی، زیربناها، صنعت و سایر زمینه ها ایجاد شده و سرمایه گذاران اندونیزیایی می توانند در این زمینه سرمایه گذاری کنند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء گفت، امارت اسلامی تسهیلات لازم را برای سرمایه گذاران ایجاد کرده و از هیچ نوع همکاری در این زمینه دریغ نه خواهند ورزید.

محترم محمد یوسف کالا رئیس هلال احمر و شورای مساجد و معاون پیشین رئیس جمهور اندونیزیا، پیشرفت های به وجود آمده در افغانستان را ستایش نموده افزود که این وضعیت واقعی افغانستان را به دولت، مردم اندونیزیا و جهان به تصویر خواهد کشید. وی گفت که اندونیزیا خواهان گسترش روابط خود با افغانستان در زمینه های مختلف است و سرمایه گذاران اندونیزیایی تمایل به سرمایه گذاری در معادن افغانستان دارند. محترم محمد یوسف کالا افزود که در آینده نزدیک هیأت اقتصادی اندونیزیایی برای سرمایه گذاری در معادن افغانستان به کابل می آیند و در مورد همکاری های مشترک اقتصادی در زمینه های مختلف با طرف افغان گفتگو خواهند کرد.

در پایان، هر دو طرف بر توسعه روابط افغانستان و اندونیزیا در زمینه های سیاسی، اقتصادی، تجارتی و آموزشی تاکید کردند.

# د سن پټرزبورګ اقتصادي غونډه

## او پر افغانستان يې اغيز

لیکوال: امان‌الله حنيفي



### سریزه

د سن پټرزبورګ اقتصادي غونډه هر کال د روسيې په کوربه‌توب په دغه هېواد کې ترسره کېږي چې سږ کال يې ۲۷مه غونډه وه. په دې غونډه کې د بېلابېلو لورو ترمنځ په اقتصادي او سوداګريزو برخو کې هوکړه‌ليکونه لاسليک کېږي او د مشترکو اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د نويو بابونو پر رامنځته کولو اصلي تمرکز کيږي. د سن پټرزبورګ ۲۷مې غونډې ته پر نورو هېوادونو سربېره سږ کال د روسيې په رسمي بلنه د افغانستان اسلامي امارت استازي هم بلل شوی و، چې د کار او ټولنيزو چارو سرپرست وزير ملا عبدالمنان عمري په مشرۍ پلاوي پکې ګډون وکړ.

د سن پټرزبورګ اقتصادي غونډه به د افغانستان او روسيې پر دوه اړخيزو اقتصادي تعاملاتو او سياسي اړيکو څه اغېز ولري؟ د دغه غونډې پر مهال د اسلامي امارت استازي د افغانستان په اړه نړۍ ته کوم تصوير وړاندې کړ؟ او همدا راز يې د دغه اقتصادي فورم په څنډو کې کوم ليدنې او لاسته راوړنې درلودې؟ موږ د همدې موضوعاتو په اړه په دغه مقاله کې لنډې خبرې کوو.

### د سن پټرزبورګ ۲۷مه اقتصادي غونډه

د سن پټرزبورګ اقتصادي غونډه هر کال د روسيې په کوربه‌توب په دغه هېواد کې ترسره کېږي چې سږ کال يې ۲۷مه غونډه وه، چې د رواني جون مياشتې له پنځمې نېټې پيل او په اتمه پای ته ورسېده. په دغه غونډه کې پر افغانستان سربېره د ډېرى هېوادونو استازو برخه اخيستې وه، چې د مې مياشتې په پنځمه نېټه د روسيې د ولسمشر ويلاديمير پوتين له لوري پرانيستل شوه. پوتين د دغه غونډې د پرانيستې پر مهال د نورو موضوعاتو ترڅنګ په ځانګړي ډول د افغانستان په اړه څرګندونې درلودې او ويې ويل، دا يو واقعيت دی او روسيه پر دې باور ده، چې اسلامي امارت په افغانستان کې رښتينی ځواک او واک په لاس کې لري او دوی لېواله دي، چې له اسلامي امارت سره پراخې اړيکې جوړې کړي.

د افغانستان اسلامي امارت د کار او ټولنيزو چارو وزير دغه غونډې ته د خپلو خبرو پر مهال وويل، چې افغانستان خپلواک او امن هېواد دی او د سوداګرۍ او سيمې نښلېدو په برخه کې يې بايد له جغرافيايي موقعيت څخه ښه ګټه واخيستل شي. ښاغلي عمري د يادې غونډې پر مهال وويل، اسلامي امارت له روسيې او د سيمې نورو هېوادونو سره اقتصادي او سوداګريزې اړيکې غواړي، چې اوسمهال يې د پراخولو ښه فرصت برابر شوی دی. نوموړي زياته کړه، پر افغانستان لګول شويو بنديزونو دغه هېواد تر نورو زيات زيانمن کړی او بايد دغه بنديزونه لرې شي. دغه راز د کار او ټولنيزو چارو وزير وويل، چې افغانستان د ناظر په صفت د شانګهای د همکاريو سازمان غړيتوب لري، خو د اسلامي امارت د استازو له ګډون پرته پکې شوې پريکړې يو طرفه دي، چې بايد د اسلامي امارت استازي ته پکې د ګډون حق ورکړل شي.

ښاغلي عمري د خپلو څرګندونو پر مهال د سن پټرزبورګ ۲۷مه اقتصادي غونډه نه يوازې د افغانستان، بلکې د سيمې په ګټه وبلله او زياته يې کړه، چې افغانستان او روسيه بايد د دوه اړخيزو ګټو په پام کې نيولو سره خپل تعامل ته دوام ورکړي، چې دا به د دواړو هېوادونو پر اقتصاد او سوداګرۍ مثبت اغېز ولري .

د کار او ټولنيزو چارو وزير د دغه اقتصادي فورم په څنډو کې د داغستان جمهوريت د اقتصاد او سوداګرۍ له وزير سره وکتل. د دغه ليدنې پر مهال د دواړو لورو ترمنځ د سوداګرۍ پراختيا، د اقتصادي اړيکو په ټينګښت، سوداګرو ته د ويزو سهولتونو برابرولو او همدا راز په افغانستان کې د داغستان جمهوريت د پانګوالو پر

پانګونې بحثونه وشول . ښاغلي عمري د دغه هېواد پانګوالو ته په افغانستان کې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، چې اسلامي امارت پانګوالو ته د پانګونې تر ټولو اسانه اصول او شرايط برابر کړي دي.

د کار او ټولنيزو چارو سرپرست وزير د دغه غونډې په څنډو کې د فدراتيف روسيې د کار او ټولنيز خونديتوب له وزير سره هم وکتل.

د دغه ليدنې پر مهال د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخيزو سوداګريزو او اقتصادي اړيکو په اړه خبرې وشوې. دغه کتنه کې روسيې ته د افغان کاريګرو د لېږد، د غوره کار او ټولنيز خونديتوب په برخه کې د تجربو شريکولو او دغه برخه کې د کار او ټولنيزو چارو وزارت د کار کوونکو د وړتيا لوړونې په اړه مفصل بحثونه وشول ، چې دواړو لورو د ګډو همکاريو لپاره ليوالتيا وښووه.

ټاکل شوې چې د دغه اقتصادي فورم په څنډو کې به د کار او ټولنيزو چارو وزير د يوشمېر نورو هېوادونو له استازو سره هم د دوه اړخيزو اقتصادي او سوداګريزو اړيکو په اړه مجلسونه ولري.

## پایله

اسلامي امارت ته داسې مهال د سن پيترزبورګ ناسته کې د ګډون بلنه ورکول کېږي، چې د سيمې هېوادونو له خپلو ممنوعه ليستونو څخه د اسلامي امارت ايستلو ته مخه کړې او ټول لېوالە دي، چې له اسلامي امارت سره خپلې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې پراخې کړي. له ممنوعه ليستونو څخه د اسلامي امارت له ايستلو سره جوخت د سن پيترزبورګ ۲۷مه اقتصادي غونډه کې چې د سيمې د اقتصادي ثبات لپاره خورا ارزښتناکه ده، د اسلامي امارت د استازي ګډون د سيمې هېوادونو او په ځانګړې توګه روسيې سره د افغانستان د اقتصادي او سوداګريزو اړيکو د پراخولو نوی څپرکی پرانيزي.

د سن پيترزبورګ ۲۷مې اقتصادي غونډې له لارې به افغانستان وتوانېږي په مختلفو برخو کې له روسيې سره خپلې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې پراخې او پياوړې کړي. روسيه هم په ډېرې ليوالتيا سره غواړي چې د افغانستان له لارې د اروپايي بازارونو پر ځای مرکزي اسيا، سويلي اسيا، افريقا او نورو سيمو بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي، چې د افغانستان موقعيت په دې برخه کې ځانګړې اهميت لري. له روسيې سره د اقتصادي، سوداګريزو او ترانزيتي اړيکو د پياوړتيا په صورت کې به افغانستان له يوه لوري خپلې اړتياوې په ځانګړې توګه د نفت او ګازو په برخه کې په ډېرې ارزانه بيه پوره کړي او له بل لوري به دغه هېواد ته د خپلو صادراتو کچه زياته کړي.

له افغان خاورې د روسيې د ترانزيټ په صورت کې به افغانستان ته په کلنۍ ډول د ميليونونو ډالرو عوايد ترلاسه شي، د سيمې له هېوادونو سره به يې اقتصادي او سوداګريزې اړيکې وغوړېږي، د هېواد دننه به د زېربنا په ځانګړې توګه ترانسپورټ په برخه کې بهرنۍ پانګونه راجلب شي او پر دې ټولو سربېره به د افغانستان صنعت وده وکړي، چې دا به د ځان بسيانې په برخه کې يو اساسي ګام وي.








## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امريکايي ډالر | ؋۷۳,٦٠ | ؋۷۳,۷٠ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلداري | ؋۲٦۳ | ؋۲٦۳ |
| ١٠٠٠ | ايراني تومن | ؋۱,۷٥ | ؋۱,۷٥ |
| ١ | اروپايي يورو | ؋۷۹,۹٦ | ؋۸۰,۰٦ |
| ١ | روسی روبل | ؋۰,۸۳ | ؋۰,۸۳ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلداري | ؋۸۸٥ | ؋۸۸۷ |
| ١ | انګليسي پوند | ؋۹۳,٥٤ | ؋۹۳,٦۷ |
| ١ | سعودي ريال | ؋۱۹,٦۳ | ؋۱۹,٦٥ |
| ١ | اماراتي درهم | ؋۲۰,۰٤ | ؋۲۰,۰۷ |
| ١ | چيني ين | ؋۱۰,۳۷ | ؋۱۰,۳۹ |